اسلام
د ژوند نظام

ليکوال : سيدابوالاعلی مودودي رحمة الله عليه

ژباړن : مولوي محمد شريف (رحماني) .

اسلام

د ژوند نظام

داسلام اخلاقي نظام

داسلام سياسي نظام

داسلام اجتماعي نظام

داسلام اقتصادي نظام

داسلام روحاني نظام .

ليکوال : مولنا سيد ابو الاعلى مودودي رحمته الله عليه .

ژباړن : مولوي محمد شريف (رحماني) .

داد مولنا رحمة الله علیه هغه تاریخي وینا ده چې د جنوری دمیاشتې په شپږمه نیټه ۱۹۴۸م کال دلاهور له راډیو نه خپره شوې ده .

داسلام اخلاقي نظام

دانسان په بدن کې اخلاقي جذبه یو فطري احساس دی چې ځینې صفات خوښوي او ځینې نه خوښوي دغه حس په انفرادي ډول کیدی شي په ځینو خلکو کې لږ او یا ډیر وي خو په مجموعي توګه بشریت د تل لپاره په ځینو اخلاقو د ښه والي او په ځینو دبدوالي حکم کړی دی ، رښتیا ویل ، عدالت ، د ژمنې پابندي او امانت یې د تل لپاره په انساني اخلاقو کې د ستاینې وړ بللې هیڅکله داسې وخت نه دی شوی چې دروغ ،ظلم دوعدې ماتول او خیانت چاخوښ کړی وي ددې پرعکس ، خواخوږی ، زړه سوی ، سخاوت او د نظر پراختیا ته د تل لپاره په درنه سترګه کتل شوي ، خپل غرضي ، سخت زړه توب ، بخل او تنګ نظری ته هیڅکله هم د ویاړ مقام نه دی په برخه شوی ، صبر ، زغم عزم او میړانه د تل لپاره هغه اوصاف دي چې د اخیستلو او عمل کولو وړ ګڼل شوي ، بې صبري ، ارتجاع ، غوسه کیدل بې حوصلې توب او په بې زړه توب

باندې هيڅکله هم چاښه ندي ويلي د نفس کنترول ، خو د داري ، شايستګي انکسار او عاجزي دتـل لپـاره پـه ښو صفاتو کې شميرل شوې هيڅکله داسې نه دي شوي چې د نفس بندګي ، کم ظرفي او اخلاقي کـوږوالي ته د ښو خويونو په فهرست کې ځای ورکړ شوی وي. مسؤليت پيژندنه ، وفا ، استعداد اودمسؤليت احساس تـه تل دوياړ په سترګه کتل شوې ، مسؤليت نه پيژندل او بې وفا يې ته کله هم چا په ښه سترګه نه دي کتلي ، په دې توګه د ټولنيز ژوند په ډګر د ښو او بدو اوصافو په معامله کې ټول بشريت په يوه خوله دی ، د عزت او ويـاړ مستحقه هغه ټولنـه ده چـې . دافـرادو تـرمينځ يـې د مرسـتې ، محبـت ، خيرغوښـتنې ټـولنيز عـدالت او ټـولنيز مساوات احساس ژوندی وي بيلتون ، ګډوډي ، بې نظمي ، بې اتفاقي ، خپـل مينځـې بـدخواهي ، ظلـم ، بـې انصافي هيڅکله هم د ټولنيز ژوندانه په ډګر په ښو صفاتو کې نـه شـميرل کـيږي ـ همدغـه معامله دنيکـۍ او بدۍ هم ده ، غلا ، زنا ، قتل ، ډاکه ، رشوت خـوړل ، دوکـه او فريـب ، ښـکنځلې ، بـده وينـا ، دخلکـو ازارول غيبت ، چغلي ، حسد ، بهتان ، ويل او فساد اچول هيڅکله په ښو چارو کې ندي شميرل شـوي . مکـار ، کـبر جن ، رياکار ، منافق او حريص وګړي هيڅکله د ښو خلکو په کتار کې نـه دي حسـاب شـوي ددې پـرعکس د مور او پلار خدمت ، دخپلوانو مرسته ، له ګاونډيانو سره ښه چلند له دوستانو سره انډيوالي ديتيمانو او بې ځوکـه خلکو په حال ځان خبرول د مريضانو پوښتنه او د غم ځپلو مرسته د تل لپاره ښه صفات ګڼل شوې دې . پـاک لمنۍ ، ښې وينا، نرمۍ ، او خير غوښتنې ته تل په درنه سترګه کتل شوي

بشريت خپل ښه عناصر هغه خلک بولي چې ريښتيني او صادق او پـه هـره معاملـه کـې پـرې اعتبـار کولی شي هغه چې ظاهر او باطن وينا او کړه وړه يې سره برابروي ځوک چې په خپل حق قانع اوسي او د نـورو حقوق په پراخه سينه اداء کوي پرامنه ژونـد کـوي او نـورو تـه امـن ورکـوي چـې د هغـه لـه شخصـيت ځخـه د خيرهيله کيږي او د بدۍ اندينښه ورځخه نه وي . له دې نه معلومه شوه چې انساني اخـلاق پـه بنسـټيزه توګـه هغه نړی وال حقيقتونه دي چې ټول انسانان يې پيژني نيکي اوبدي کوم پټ شـيان نـه دي چـې هغـې پسـې دې غوټې ووهل شي او راودې وپستل شي بلکې بشريت ته پيژندل شوي شيان دي چې احسـاس يـې د بشر-

په فطرت کې ایښودل شوی همدالامل دی چې قران کریم په خپله ژبه کې نیکي ته معروف او بدۍ تـه منکـر وایې .

معروف هغه شي ته وایې چې ټول خلک یې ښه بولي او منکر هغه شي ته ویل کیږي چې خلـک یـې بد بولي همدغه حقیقت قرآن عظیم الشان په نورو الفاظو داسې بیان کـړی دی : (فالهمها فجورها وتقواها) یعني : دانسان نفس ته الله جلت عظمتهٔ د بدی او نیکۍ پوهه په الهامي توګه ورکړې ده .

په اخلاقي نظامونو کې اخلاق څنګه رامینځته شو ؟

اوس پوښتنه دادی هرکله چې نیکي او بدي پیژندل شوې شیان دي او نـړۍ وال د تـل لپـاره دځینـو صفاتو په ښه توب او د ځینو په بدوالي سره متفق دي نو بیا په نړۍ کې جلا جلا اخلاقي نظامونه څنګه راپیـدا شوه ؟ د هغوی ترمینځ بیلتون پرکوم اساس دی ـ هغه کوم شی دی چې له امله یې موږ ویلی شو اسلام ځانتـه یو مستقل اخلاقي نظام لري . داخلاقو په معامله کې د اسلام امتیازي خصوصیت څه شی دی ؟

ددې مسئلې دپوهېدو په خاطر موږ د نړۍ په بیلا بیلو اخلاقي نظامونو نظر اچوو نو پـه لومړۍ کتنـه کـې چې کوم بیلتون زموږ مخې ته راځي هغه دادی چې بیلا بیل اخلاقي صفات چې د ژوند په مجموعي نظام کـې داندازې ، مقام او مصرف د تجویز کولو او د هغوی ترمینځ د نسبت په قایمولو کـې ټـول یـو تربلـه سره بیلتـون لري ـ بیا په ډیر ژور نظر سره دغه بیلتون داسې معلومولی شو چې په اصل کې د اخلاقـو دښـه والي او بـدوالي دمعیار د څرګندولو او د خیر او شر د وسیلې په ټاکلو کې سره د غه نظامونه جلا دي د هغوی ترمینځ په دې کار کې هم اختلاف دی چې د قانون ترشاهغه نافذه قوت څه شی دی چې د هغې په زور سره هغه تنفیذ شي او بیا هغه کوم محرکات دي چې انسان د هغه قانون منلو ته تیاروي لیکن کله چې موږ ددې اختـلاف پتـه معلومـؤو نو په پای کې موږ ته دغه حقیقت څرګندیږي هغه اصلي شی چې د دغو ټولو اخلاقـي نظـامونو لاري یـې سره

جلا کړې دي دادي چې دهغوی ترمينځ د کايناتو په تصور او په کايناتو کې د انسان په حيثيت او هدف کې اختلاف له ريښو څخه نيولې تر ښاخونو پورې او له ښاخونو څخه د هغې تر روح او دهغې تر مزاج او بنې پورې ټول يې يو له بل څخه جلا کړې دي .په انساني ژوند کې اصل پريکنده پوښتنې دادي چې ايا د غه کاينات څښتن لري او که نه ؟ که چيرې موجوديت يې ومنل شي نو ايا دغه خدايان ګڼ دي او که يودی ؟ چې الوهيت يې ومنل شي نو دهغه صفات څه دي ؟ له موږ سره يې څه تعلق دی ؟ ايا هغه زموږ د لارښوونې کوم انتظام کړی دی او که نه ؟ ايا موږ د هغه جلت عظمتهٔ پروړاندې ځواب ورکونکي يو او که نه ؟ که چيري ځواب ورکونکي اوسو نو چاته ځواب ورکوونکي يو ـ ؟ او زموږ دژوند هدف او انجام څه شی دی چې دهغې په نظر کې نيولو سره موږ کار وکړو ؟ ددغو پوښتنو ځواب چې دکوم نوعيت پربنسټ وي په هماغه برابر به يې دژوند نظام هم جوړښت مومي او د هغې په برابربه يې د اخلاقو دنظام حال هم وي .

په دغه لنډه وينا کې به ځما لپاره ډير سخته وي چې د نړۍ دټولو نظامونو جاج واخلم او دا ووايم چې په هغې کې کومو وګړو دغو پوښتنو ته څنګه څنګه ځوابونه ورکړي دي .

هغه ځوابونه دهغه مشکل او لارې په ټاکنه کومه اغيزه غورځولې ده زه يوازې داسلام په اړه عرض کول غواړم چې د هغو پوښتنو کوم ځواب دی او د هغه پربنسټ څنګه ځانګړی اخلاقي نظام رامينځته کيدلی شي .

اسلامي ژوندون او اخلاق داسلام په رڼاکې .

پورتنيو پوښتنو ته داسلام ځواب دادی چې دغه کاينات يو څښتن ، خالق ، مالک او حاکم لري چې دغه ټول شيان يې پيداکړي دي هغه بې سياله مالک حاکم او څښتن دی دهغه جلت عظمتهٔ دامر تر واکمنی لاندې داټول نظام چليږي ، هغه حکيم او مطلق واکمن په څرګندو او پټو شيانو پوه له هر عيب ، نيمګړتيا ،

کمزورۍ او نقصان څخه پاک دی دهغه الوهيت په داسې طريقه ټينگښت موندلی دی چې هيڅا ته اړ نه دی بې سياله واکمن دې انسان د پيدا ينښت په لحاظ دهغه بنده ده دهغه مسؤليت او دنده دادی چې د خپل خالق بندگي او اطاعت وکړي هغه بايد دژوند په ټولو پړاؤنو کې په بشپړه توگه دالله عزوجل بندگي وکړي هغه ته دبندگۍ دلارې ټاکل دهغه خپل کارنه بلکې دهغه ذات کار دی چې د ټولو کايناتو څښتن او د هغه د لارښوونې لپاره يې خپل پيغمبران راستولي او خپل کتابونه يې نازل کړي دي انسان مسؤليت لري چې دخپل ژوند دلارښوونې لپاره د هغه جلت عظمتهٔ دلارښوونو سرچينې ته مراجعه وکړي ، انسان په خپل ټول ژوند کې د الله جلت عظمتهٔ په وړاندې ځواب ورکوونکی دی دغه ځواب ورکول په دې نړۍ کې نه دي بلکې داهر څه به په اخرت کې وي ـ د دنيا او سنی ژوند دازموينې ډگر دی دلته بايد دانسان ټول کوښښونه په دې خبره راوڅرخيږي چې هغه داخرت په ځواب ورکولو کې دخپل څښتن په وړاندې برۍ ترلاسه کړي په دغه ازموينه کې دانسان ټول وجود شريک دی دهغه دټولو ځواکونو او صلاحيتونواو دژوندانه د هريو اړخ ازموينه به اخېستل کېږي په ټولو کايناتو کې چې له کوم شي سره چې د ی مخامخ کيږي او دده ورسره تعامل وي په بشپړه توگه به حساب صورت ونيسي چې انسان ورسره څنگه تعامل کړی او دغه حساب کونکی به هغه سپيڅلی ذات وي چې دځمکې پر ټولو ذراتو ، هوا ، اوبو ، او پخپله د انسان په زړه ، دماغ ، لاس او پښو نه يوازې دده په حرکاتو او سکناتو بلکې دده په فکر او ارادې پورې په ټولو شيانو د علم څښتن دی دنړۍ په ژوندکې د انسان دټولو کړو وړو ريکارډ جوړيږي .

داخلاقي هلو ځلو هدف

داهغه څه دي چې اسلام د ژوندانه بنسټيزو پوښتنو ته ځوابونه ورکړي دي دغه تصور او عقيده په کايناتو کې انسان ته حقيقي او دکاميابۍ وروستنۍ پړاؤ ټاکي چې هغه ته رسيدل دانساني هلو ځلو نهايي هدف

اوهغه دالله عزوجل له رضا څخه عبارت دي داهغه معيار دی چې پر هغې باندې داسلام داخلاقي نظام په عملي تګلارې پريکړه کيدی شي چې داخيردی او يا شر ددې له ټاکنې وروسته اخلاقو ته هغه محور په برخه کيږي چې دهغې په شاوخوا ټول اخلاقي ژوند څرخيږي هغه دهغې کشتۍ حالت ته ورته نه وي چې دهوا او اوبو څپې يې هرې خواته څغلوي دغه تعين ديو مرکزي مقصد مخې ته په ايښودلو سره ټولو اخلاقي صفاتو ته وړ حدود، ځايونه اومناسب عملي شکلونه ټاکي په دغه صورت کې موږ ته هغه خپلواکه ځواکونه لاس ته رازي چې په ټولو بدليدونکو رابدليدونکو حالاتو کې يې ثابت ځای ترلاسه کړی دی .

بيا تر ټولو لويه خبره داده چې دالله تعالی درضا او خوښۍ په مقصود ګڼلو سره انسان ته لوی هدف او غايه په برخه کيږي چې دهغې په وسيله داخلاقي پرمختګ لايتناهي امکانات رامينځته کيږي چې په هيڅ پړاؤ کې هم دشخصي غرضونو ښکارکيدلی نه شي . له معيار ورکولو سره سره اسلام دکايناتو په هکله دخپل تصور او انسان ته داخلاقي حسن او قبح ديو مستقل علم دوسيلې بنسټ هم ږدي هغه زموږ داخلاقو علم يوازې دعقل او تجربې په بشري علومو کې نه دی منحصر کړی چې د تل لپاره د بدليدونکو پريکړو په نتيجه کې زموږ اخلاقي قوانين هم بدلون وومي او هغوی ته به هيڅکله استقرار په برخه نه شي

حقيقت دادی چې هغه موږ ته يوه ټاکلی سرچينه په لاس راکړې چې هغه دالله عزوجل سپيڅلی کتاب او د هغه د پيغمبرسنت دي چې له هغې نه موږ ته په هر حال او هر وخت کې اخلاقي لارښوونې په لاس راتللی شي دغه لارښوونې داسې دي چې دکورنۍ ژوندانه دکوچنيو معاملاتو څخه واخله د نړۍ وال سياست تر لويو لويو پيښو پورې دژوندانه په هر اړخ او څانګو کې زموږ رهنمايي کوي ـ دهغې په دننه کې دژوندانه په چارو داخلاقي اصولو هغه پراخه انطباق (Widest Application) مونډل کيږي چې په هيڅ پړاؤ کې دعلم بلې وسيلې ته زموږ اړتيا نه پيښوي .

داخلاقو ترشا نافذونکی ځواک

داسلام سپیڅلی دین انسان ته دکایناتو اصلي او حقیقي تصور او د اخلاقي قانون تر شا نافذه قوت هم ورپه برخه کوي چې هغه دالله عزوجل ویره او د اخرت سوال او ځواب او د ابدي تلپاتي ژوند د خرابتیا احساس دی اگر که اسلام یوه داسې ځواکمنه عامه رایه هم جوړول غواړي کوم چې په ټولنیز ژوندانه کې اشخاص او ډلې داخلاقي اصولو په پابندۍ مجبوروي او یو داسې نظام هم په پښو دروي چې دهغه دتطبیق اصلي اعتماد په بیروني فشار نه بلکې دهغه په دننني فشار باندې ایښودل شوی چې هغه د الله جلت عظمتهٔ په وجود یقین او د اخرت دعقیدې له باور څخه عبارت دی .

داخلاقي احکامو تطبیق نه مخکې داسلام سپیڅلی دین د یو شخص په زړه کې داخبره کښینول غواړي چې ستامعامله په بنیادي ډول له هغه ذات سره دی چې په هروخت او هرځای کې تاویني ته خو له خلکو څخه پټیدلی شي خو له هغه عزوجل څخه نه شي پټیدلی ـ د نړۍ ټولو خلکو ته خو دوکه ورکولی شي خو هغه ته یې هیڅکله نه شي ورکولی د نړۍ والو څخه خو تیښته کولی شي خو د هغه جلت عظمتهٔ په محکمه کې به ستاحاضریدل وي چې هلته بیا وکالت نه شي چلیدلی او په هغې کې به ستا د راتلونکي تلپاتي ژوند د برخلیک په هکله عادلانه پریکړه صورت نیسي .

دداسې عقیدې او باور په درلودلو سره گویا دهر سړي په زړه کې دپولیسو مرکز جوړیږي چې له دننه څخه تاد هغه حکم عملي کولو ته اړکوي برابره خبره ده چې بیرون په هغو احکامو د فشار په توگه دعمل لپاره کوم پولیس ، محکمه او زندان موجود وي او که نه ؟

داسلام داخلاقي نظام تر شا همدغه زور او ځـواک پـروت دى چې پـه تطبيـق کـې يـې اغيـزمن رول ترسره کوي . که چيرته ، عامه رايه او دحکومت ځواک دهغې ترشا موجود وي بيا خو (نور على نور) شو او کـه نه ؟ همدغه ايمان مسلمان افراد او مسلمان قام پـه سـمه لار روانـولى شي پـه دې شرط چې پـه زړو نـو کـې واقعي ايمان ځاى پرځاى شوى وي .

دکايناتو او انسان په هکله داسلام دغه مفکوره هغـه محرکـات هـم برابـروي چـې انسـان د اخلاقـو د قانون په برابر دعمل لپاره اماده کوي په دې خبره دانسان راضي کيدل چې هغـه الله پـاک د خپـل معبـود پـه توګه ومني او د هغه عزوجل بندګي دخپل ژوند لاره وبولي ـ د اددې خپـرې لپـاره بشـپړ محـرک دى چـې کـوم شخص د الهي احکامو اطاعت کوي دهغه لپاره به په تلپاتې ژوندانه کې ښايسـته راتلـونکى يقينـي وي . برابـره خبره ده چې د دنيا په عارضي ژوندانه کې له څومره ستونزو ، زيانونو او کړاؤنو سره مخـامخ شـوى اوسـي . ددې پرعکس څوک چې دلته دالله عزوجل څخه په سرغړونې لاس پورې کړي هغه ته به ابدي او تلپاتې سزا ورکـړه شي . برابره خبره ده چې د دنيا په څولنډو تنګو ورځو کې په څومره مزو ، عيش او عشرت لاس پورې کړي

دغه هيله او ويره چې د چا په زړه کې ځاى ونيسي نو دهغه په زړه کې داسـې يـوه ځواکمنـه محرکـه قوه رامينځته کيږي چې په ټولو وختونو کې يې د نيکى په لوري هڅوي اګر کـه د نيکـى نتيجـه پـه نـړى کـې څومره زيانمنه په سترګو ښکاره شي او په هغو ځايونو کې به له بدى څخه لرې پاتې کيږي اګر کـه هلتـه بـدي ډيره ښايسته او ګټوره په سترګو ځرګنده شي .

له دغه تفصيل نه داخبره په ډاګه کيږي چې داسلام خپل کايناتي تصـور، دخپـل خيـر او شر معيـار د علومو او اخلاقو سرچينه خپل نافذه ځواک او خپل محرکه قوت جلا ساتي او د هغـو شـيانو پـه وسـيله مشـهور اخلاقو مواد دخپلې اندازې په برابر ترتيبوي او د ژوندانه په ټولو څانګو کې يې جاري کـوي ، پـر دې بنسـټ بـه داوينا صحيح وي چې اسلام خپل بشپړ او خپلواکه اخلاقي نظام لري .

داسلام داخلاقي نظام ځانګړ تياوې:

ددغه نظام ځانګړتياوې ډيرې دي په هغو کې درې ډيرې څرګندې او وتلي ګڼلی شي .

لومړی خصوصېت:

لومړی خصوصېت ېې دادی چې اسلام دالله عزوجل در ضا او خوښۍ په هدف ګرزولو سره داسې يو لوړ معيار قايموي چې دهغې له امله داخلاقي ارتقا د امکاناتو کومه انتهاء نه وي دعلم ديوې ټاکلې سرچينې په تقرر سره اخلاقو ته هغه پايښت او استقلال په برخه کيږي چې په هغه کې دېرمختګ ځای وجود لري مګر د ارتجاع او د وکې ځای په کې نه وي دالله عزوجل دويرې په وسيله اخلاقو ته هغه نافذه ځواک ښبلی شي چې د بيروني فشار نه پرته عملي بڼه غوره کوي .

دويم خصوصېت:

دويم خصوصيت يې دادی چې هغه يو څو د ګوتو په شمير اخلاق نه وړاندې کوي چې په انساني معروفو اخلاقو کې ځينې کم او ځينې زيات کړي . اسلام هغه اخلاق خپلوي چې معروف دي او په هغو کې څه د ګوتو په شمير نه بلکې ټول خپلوي بيا په ژوندانه کې په بشپړ توازن او تناسب سره د يوه يوه ځای ، مقام او مصرف ټاکي او د هغو تطبيق ته داسې پراختيا په برخه کوي چې انفرادي کړه وړه ـ کورنی او ښاري ژوند ، ملکي سياست ، اقتصادي کاروبار ، بازار ، ښوونځی ، محکمې ، پوليسيـ او پوځي چوڼۍ ، دجګړې ډګر ، د سولې کانفرانسونه . لنډه دا چې د ژوندانه هيڅ اړخ او څانګه داسې نه دی چې داخلاقو له هراړخيزو اغيزو څخه

ژغورل شوې اوسي هر ځای او د ژوند په هره څانګه کې اخلاقو ته واکمني په برخه کوي . او دهغه کوښښ دادی چې د ژوندانه دمعاملاتو واګې د نفسي غوښتنو او ګټو پر ځای داخلاقو لاسونو ته ورکړي .

دريم خصوصيت :

دريم خصوصيت يې دادی چې هغه له بشريت څخه دداسې يوه نظام د ټينګولو غوښتنه کوي چې په نيکيو ولاړ او له منکراتو څخه پاک او سپيڅلی اوسي د اسلام داخلاقي نظام بلنه دادی کومې ښې چارې چې بشري احساس د تل لپاره ښې ګڼلي دي راځئ چې هغه په پښو ودرؤو او کومې بدې چارې چې بشريت تل بدې ګڼلي دي له مونږ نه يې وباسو او له مينځه يې يُوسُو .دغې بلنې ته چې کومو خلکو لبيک ويلی هغوی سره يوځای کړو او له هغو څخه يو اُمت جوړ کړو چې دهغې نوم اسلامي امت ؤ د امت په توګه د هغه دجوړښت مقصد داؤ چې هغه به معروف (نيک کارونه) د ځمکې پرمخ ټينګوي او د منکر (بدوکارونو) دله مينځه وړلو او تمبولو لپاره به په منظمو کوښښونو ا هلو ځلو لاس پورې کوي .

اوس که چيرې ددې امت په لاسونو معروف ترفشار لاندې ونيول شي او د منکراتو او ناروا چارو دقايمولو کوښښ وشي نو دا دامت لپاره په دنيا او اخرت کې دغم او افسوس خبره ده .

د اسلام سياسي نظام

دا دمولنا رحمة الله عليه هغه تاريخي وينا ده چې د جنوري دمياشتې په شلمه نيټه د ۱۹٤۸م كال د لاهور له راډيو نه خپره شوې ده .

داسلام سياسي نظام په درې بنسټونو اينبودل شوی توحيد ، رسالت او خلافت . ددې اصولو له فهم نه پرته داسلامي سياست تفصيلي پوهه ستونزمنه ده .زه له ټولو د مخه ددغو درې واړو اصولو تشريح وړاندې كوم .

دتوحيد معنا دادی چې الله جلت عظمتهٔ دنړی او دهغې د ټولو استوګنو خالق ، مالک او پالونكی دی حكومت او واكمني دهغه حق ده هغه دحكم وركولو اود منعه كولو حق لري د بل چا له شركت نه پرته د بندګۍ او اطاعت مستحق يوازې دهماغه سپيڅلی ذات دی . زموږ دغه نړۍ چې موږ په كې اوسيږو زموږ جسماني ځواكونه چې موږ ورڅخه كار اخلو زموږ هغه واک او اختيارات چې موږ ته دنړۍ پر موجوداتو په برخه دي او پخپله دغه موجودات چې پر كومو باندې خپل واک استعمالؤو په هغو ټولو كې يو شی هم نه موږ پيداكړی او نه مو حاصل كړی دی او نه دهغو په ور كړه كې له الله تعالی سره څوک شريک ؤ او نه شته له همدې كبله دخپل ژوند دهدف او د خپلو ځواكونو دمصرف او خپلو واكونو د حدودو ټاكل نه زموږ خپل كار دی اونه بل چاته

په دې کې د مداخلې حق په برخه ده دا یوازې دهغه سپیڅلې ذات صلاحیت دی چې موږ یې له دغو څواکونو او اختیاراتو سره پیدا کړي یُو او د نړۍ ډیر شیان یې زموږ په واک کې راکړي دي

د توحید دغه اصول بشري حاکمیت په بشپړه توګه نفی کوي . یو انسان وي او که یوه طبقه او ډله او یا پوره قام او یا په مجموعي توګه د ټولې نړۍ انسانان، دحاکمیت حق هیڅاته په برخه نه دی حاکم یوازې الله عزوجل دی او د هغه جلت عظمتهٔ حکم د قانون سرچینه ده .

په کومې وسیلې سره چې دالله عزوجل قانون بشریت ته رسیدلی دهغې نوم رسالت دی - په دغې وسیلې سره موږ ته دوه شیان په برخه شوي یو (کتاب) چې په هغه کې پخپله الله عزوجل خپل قانون بیان کړی دی دویم د کتاب مستنده تشریح چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د الله جلت عظمتهٔ دنماینده په حیث په وینا او عمل دواړو سره وړاندې کړی . دالله عزوجل په کتاب کې ټول هغه اصول او قوانین بیان شوي دي چې پر هغې باندې د انساني ژوندانه نظام ټینګښت مومي او پیغمبرصلوة الله وسلامه علیه ددې کتاب دغوښتنو په برابر په عملي توګه د ژوند یو نظام جوړ کړ او دهغه ضروري تفصیلات یې موږ ته څرګند او زموږ لپاره یې یوه نمونه قایمه کړه په اسلامي اصطلاح کې ددې دواړو مجموعي نوم شریعت دی او د هغه اساسي اصول او قوانین دي چې پرهغې باندې اسلامي ریاست ټینګښت مومي.

اوس خلافت درواخلئ : په عربي ژبه کې دغه لفظ دنیابت لپاره ویلی شي ـ داسلام دسپیڅلي دین په رڼا کې په نړۍ کې دانسان اصل حیثیت دادی چې هغه د زمکې پرمخ دالله عزوجل نایب او خلیفه دی یعنې دژوند په ډګر هغه ورکړ شوې اختیارات استعمالوي چې دالله جل شانه له خوا ور کړشوي دي د ده حیثیت دخپل سري او خپلواکه واکمن نه بلکې د بنده په توګه دی . تاسو چې کله یو چاته د خپل جایداد انتظام سپارل غواړې نو په لازمي توګه ستاسو په نظر کې څلور خبرې وي .

لومړی : داچې ددغه جایداد اصلي او واقعي څښتن تاسو یاست ،

دویم : داچې ستاسو په جایدادکې دغه سړی ستاسو دورکړی شویو لارښوونو په برابرکار کولی شي

دریم : داچې هغه خپل واک دهغو حدودو په دننه کې په کار راوستلی شي چې تاسو ورته ټاکلي دي .

ځلورم : دا چې ستاسو په جایداد کې به ستاسې غوښتنې او خوښه په نظر نیسي۔ دغه ځلور واړه شرطونه دنیابت او خلافت لازمي عناصر (توکي) دي .

دنایب د لفظ په ویلو سره پخپله دانسان په ذهن کې راګرزي که چېرې کوم نایب دغه ځلور شرطونه بشپړ نه کړي نو تاسوو وایاست چې هغه دنیابت له حدودو څخه تیری کړی او د هغه تړون په ماتولو یې لاس پوري کړی چې د نیابت په عین مفهوم کې شامل ؤ همدغه برابر مفهوم دی چې په هغه کې اسلام انسان دالله جلت عظمتهٔ خلیفه بللی او د دغه خلافت په تصور کې دغه ځلور واړه شرطونه شامل دي

د اسلام دسیاسي نظام په رڼا کې چې کوم ریاست او دولت په پښو درېږي هغه په اصل کې دالله دحاکمیت په سیوري کې انساني خلافت دی او هغه داچې دالله عزوجل د بادشاهۍ په سیوري کې انسان د هغه جلت عظمتهٔ د لاربښوونو په برابر دهغه د ټاکلو حدودو په چوکاټ کې کار وکړي او د هغه عزوجل غوښتنې دې پوره کاندې .

دخلافت د لفظ د تشریح په لړ کې په دومره خبره ځان پوهول په کار دي چې داسلام په رڼا کې خلافت د کوم فرد کورنۍ او یا دکومې ډلې حق نه ، بلکې د ټولې ټولنې د افرادو حق دی چې د توحید او رسالت په بنستیزو اصولو ایمان ولري او د خلافت شرایط یې بشپړ کړي اوسي . دغسې ټولنه په مجموعي توګه دخلافت وړ ده داسلامي ټولنې هر فرد د خلافت مستحق ده او هیڅوک د احق نه لري چې له دغو حقوقو او اختیاراتو څخه یې محروم وګرزوي

دحکومت دچلولو لپاره چې کوم نظم او نسق جوړ یږي هغه د خلکو په خوښه جوړېښت مومي او د دوی رایه او مشوره په کې ارزښتناکه رول لري . څوک چې د،ولس اعتماد حاصل کړي د هغوی له خوا به دخلافت مسؤلیت سرته رسوي خو ددې پرعکس څوک چې د، ولس اعتماد او رایه تر لاسه نه کړي دحکومت له منصبه دې ګوښه کړی شي . په دې لحاظ اسلامي جمهوریت یو بشپړ جمهوریت دی چې له اسلامه پرته نور نظامونه

ورسره هیڅکله سیالي نه شي کولی . البته کوم شی چې اسلامي جمهوریت دغربي جمهوریت څخه جلا کوي هغه دادی چې د لویدیځ سیاسي نظریه په جمهوري حاکمیت ولاړ ه ده او د اسلام جمهوري نظام دجمهورو (خلکو) په خلافت استوار شوی . هلته دقانون جوړولو واک خلکو ته حاصل دی خو دلته ازاده قانون جوړونه څوک نه شي تر سره کولی بلکې د قانون سرچینه اسماني شریعت دی چې الله عزوجل دخپل پیغمبر په وسیله انسانانو ته رالیږلي دی . هلته حکومت دخلکو خوښه او غوښتنه پوره کوي خو دلته حکومت او خلک دالله عزوجل غوښتنه ترسره کوي .

لنډه داچې د لویدیځ جمهوریت یو بې واگو خدایې ده چې خپل واک په ازاده توگه استعمالوي ددې پرعکس اسلامي جمهوریت دالله عزوجل د بندگۍ یو پابند نظام دی چې خپل واک دالله عزوجل د لارښوونو په برابر دهغه جلت عظمتهٔ د ټاکلو حدودو په دننه کې په کار راولي . زه اوس ستاسو په وړاندې داسلامي حکومت لنډه نقشه وړاندې کوم چې د توحید ، رسالت او خلافت پر بنسټونو ایښودل شوي ده.

داسلامي حکومت مقصد په قران عظیم الشان کې په څرگنده توگه بیان شوې چې هغه به ټولو ښیگڼو او نیکو چارو ته وده ورکوي چې دهغې په وسیله الله عزوجل انساني ژوندون ښایسته کول غواړي او ټول هغه فسادونه اوبې لارتیاوې به له بیخ او بنسټ څخه وباسي چې د ژوند په ډگر الله عزوجل ته ناخوښې دي .

داسلامي حکومت هدف یوازې دمملکت د نظم او نسق ساتل نه دي او نه د کوم ځانگړي قام ټولنیز ې غوښتنې پوره کول دي ددې پرځای اسلام یو ډیر لوړ نصب العین لري چې د هغه د لاسته راوړلو لپاره خپل ټول وسایل او ځواکونه په کار اچوي او هغه داچې الله عزوجل په خپله ځمکه کې دخپلو بندگانو په ژوند کې چې کومه سپیلځلتیا ، ښکلا، خیر او اصلاح ، پر مختگ او نیکمرغي لیدل غواړي هغه ټولې دې رامینځته شي اود فساد او وراني د ټولو اشکالو مخه دې ډب کړی شي چې دالله جلت عظمتهٔ په نزد په ځمکه کې د وراني او د هغه عزوجل د بندگانو د ژوند د خرابتیا لامل گرزي .

ددغه نصب العين په مخکې اېښودلو سره اسلام زموږ پر وړاندې دخير او شر دواړو يو څرګند تصوير په مخ کې اېښى دى چې په هغه کې مطلوبه ښېګڼې او ناروا لارې چارې په واضح ډول په ګوته شوې د دغه تصوير په خپل مخ کې اېښودلو سره په هر وخت او هر چاپېريال کې اسلامي حکومت خپل اصلاحى پروګرام جوړولى شي .

داسلام خپلواکه غوښتنه دادى چې د ژوندانه په هره يوه څانګه کې دې د اخلاقې اصولو پابندي وکړى شي له همدى کبله هغه د خپل حکومت لپاره دغه غوڅه پاليسى ټاکي. چې د هغه په سياست کې به بې الايشه انصاف، سپېڅلتيا د ديانت او ايمان دارى پر بنسټ ولاړ وي. هغه د هيواد د انتظامي او ولسي ګټو په خاطر هيڅکله دروغ، دوکه او بې انصافي په هيڅ صورت کې روانه بولي د هيواد په دننه کې د حکومت او ولس تر منځ خپل مينځې اړيکې وي او که له بيرونيو هيوادونو او ملتونو سره په دواړو صورتونو کې ريښتينولي، ديانت، عدالت او انصاف په اغراضو او مصالحو مقدم ګڼل کيدى شي.

د اسلام سپيڅلي دين د مسلمانو افرادو په څير په اسلامي حکومت هم دا پابندي لګوي. چې په خپلو ژمنو او تعهداتو وفا وکړي د اخيستلو او ورکولو پيمانه يو شان کړي. چې کومه وينا کوي هغه په عمل کې پلي کړي چې کوم شى کوي د هغې وينا هم کوي له خپل حق سره خپل مسؤليت هم ياد ساتې د بل چا د مسؤليتونو تر څنګ يې حقونه هم نه هيروي حکومتي ځواک د ظلم پر ځاى د عدل او انصاف د ټينګښت وسيله ګرځوي. حق په هر حال حق پيژني او په سرته رسولو کې يې بيره کوي. اقتدار او حکومتي ځواک الهي امانت ګڼي او له همدي يقين سره يې په کار راولي چې ددې بشپړ حساب به د الله (ج) پر وړاندي ورکوي.

اسلامي رياست اګر که د ځمکي پر يوې ځانګړي برخې کې هم قايميدلى شي. خو هغه نه انساني او ښاري حقوق په يوي ځانګړي جغرافيايي سيمه کې محدود بولي تر کومه ځايه چې د انسانيت تعلق دى اسلام هر انسان ته څو بنسټيز حقوق ټاکلي دي او په هر حال کې د هغې د درناوي حکم صادروي برابره خبره ده چې د اسلامي دولت په حدودو کې دننه اوېا ببرون ژوندتر سره کړي دوست وي او که دښمن د سولي په حالت کې

اوسي او که د جنګ، انساني وينه په هر حالت کې د درناوي او احترام وړ ګڼل کيږي او له حق نه پر ته نه بيول کيږي.ښځينه. بوډا، رنځور او زخمي ته په هيڅ صورت لاس اوږدول روانه دي د ښځي عصمت او ابرو په هر حال د قدر وړ ده او هغه نه شي بې پته کيدی وړی د ډوډی، بربنډ د لباس او رنځور د علاج مستحق دی.برابره خبره ده چې د دښمن له قام سره يې اړيکه اوسي او که له خپل قام سره داسي نور حقوق هم اسلام انسان ته د بشر په حيث ورکړي دي او د اسلامی دولت په اساسی قانون کې هغو ته د بنسټيزو حقونو مقام په برخه دی.

پاتی شوه د ښاري توب حقونه اسلام يې يوازي هغه چاته نه ورکوي چې ددې دولت په حدودو کې يې نړی ته سترګې پرانستي وي. بلکي هر مسلمان ته يې ورکوي چې د نړی په کومه ګوښه کې يې نړی ته سترګې غړلي وي. هغه د نورو ښاريانو په شان د برابرو حقونو وړ بولي.په نړی کې چې څومره اسلامي دولتونه دي د هغوی تر مينځ د ښاري توب حقوق مشترک دي. هر مسلمان برابره خبره ده چې د نړی په کومه ګوښه اسلامي هيواد کې يې نړی ته سترګې پرانستي وي. بل اسلامي هيواد ته په ننوتلو سره پاسپورت ته اړتيا نه پيداکوي. مسلمان له کوم نسلي، قامي او يا طبقاتي امتياز نه پرته په هر يو اسلامي هيواد کې د لوی نه لوی منصب د مسؤليتونو اهل کيدی شي.

البته د يو غير اسلامي حکومت مسلمان رعيت په هغه صورت کې د اسلامي دولت رعيت ګڼلی شي چې اسلامي دولت ته هجر ت وکړي او دلته تل تر تله استوګن شي.

د نامسلمانو اقليتونو (لږه کيو) لپاره چې د کوم يوه اسلامي هيواد په حدودو کې ژوند ترسره کوي. اسلام څو ټاکلې حقوق ټاکلي دي او هغه په لا زمي توګه د اسلام د اساسي قانون برخه ده.

په اسلامي اصطلاح کې دغسي نامسلمانو وګړو ته ذمي ويل کيږي. مطلب دا چې د هغو د ساتني مسؤليت اسلامي دولت په خپله غاړه اخيستی د ذميانو ځان، مال او ابرو په بشپړه توګه د مسلمان د ځان، مال او ابرو په شان د قدر او عزت وړ ده په عقوباتو او تعزيراتو کې د مسلمان او ذمي تر مينځ بيلتون نه وي د

ذمیانو د شخصي ژوند په قوانینو کې اسلامي دولت کومه مداخله نه کوي.ذمیانو ته د عقیدې، دیني رسوماتو او عباداتو بشپړه ازادي په برخه ده. ذمي د خپل مذهب تبلیغ نه شي کولی. بلکې د قانون په حدودو کې بـه ژونـد سرته رسوي.اسلام ته د انتقاد ګوته هم نه شي نیولی داسي نور ډیر حقوق اسلامي قانون نامسلمانو اوسیدونکو ته ورکړي دي دا مستقل حقوق تر هغه پوري له دوی څخه نـه شي سـلبولی. ترڅـو پـوري چې دوی زمـوږ لـه تړون او ذمي څخه وتلي نه وي

نامسلمان حکومت که هر څومره په خپلو مسلمانو اوسیدونکو په ظلم او تـیری لاس پـوری کـړي. د یـو اسلامي دولت په حیث یې په ځواب کې جواز نه لري چې موږ د خپل هیواد نامسلمان استوګن ته لاس ور اوږد کړو.تر دې پورې که چیري زموږ له پولي بیرون ټول مسلمانان ووژل شي زموږ د پـولي دننـه د یـوه ذمـي وینـه تویول په ناحقه روانه دی.

د اسلامي دولت د نظم او نسق مسؤلیت یو امیر ته سپارل کیږي چې د جمهور رئیس په څیر پیژنـدل کیږي. د امیر په ټاکنه کې ټول بالغ عاقل نارینه او ښځینه د رایې د ورکولو حق لري کوم چې د اسلامي قـانون منلو ته تیاروي.

د جمهور رئیس د انتخاب بنسټ به دا وي چې د اسلام لـه روح نـه د پـوهي او د اسـلامي سـیرت او اخلاقو څښتن، الله (ج) نه ویریدونکی د تدبیر خاوند او د زیاتو خلکو د اعتماد وړ وي داسي شـخص د ولسي- مشرباته لپاره انتخابولی شي.او بیا د هغه د مرستي په خاطر د شوری مجلس هم جـوړولی شي چې هغـوي بـه هم خلکو انتخاب کړې وي.

ولس مشرته لازمه ده چې د هیواد د انتظام چلول د شوری د غړو په مشوري سره سرته ورسوي یو امیر تر هغه پوری د هیواد حکمران پاتي کیدلی شي چې ترڅو پوري ورته د خلکو اعتماد په برخه وي د عدم اعتماد په صورت کې ورته په کار دي چې له خپل منصب څخه لاس په سر شي خو ترڅو پوري چې د خلکو اعـتماد او باور ور په برخه وي د حکومت ټول اختیارات او واک ورته حاصل دی.

جمهور رئیس او د هغه په حکومتي چارواکو، عامو ښاریانو ته د انتقاد حق په برخه دی په اسلامي ریاست کې به قانون جوړونه د شرعي حدودو په چوکاټ کې وي. د الله (ج) او رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګند احکام به د مطلق اطاعت وړ وي.

د شوری هیڅ یو مجلس او قانون جوړونکی غونډه په کې تبدیل او ترمیم نه شي راوستلی په هغو احکامو کې چې د دوو او یا زیاتو تعبیرونو احتمال ولري په هغي کې د شریعت د مقصد معلومول د هغو خلکو حق دی چې شرعي پوهه ولري. داسي مسایل به ولسی جرګي د علماو او اسلامي پوهانو کمیټی ته سپاري.

له دی نه وروسته بیا د هغو چارو ارت ډګر دی چې په هغه کې شریعت کوم حکم نه وي ورکړی په داسي چارو کې د شوری مجلس د قوانینو په جوړولو کې ازادي لري.

د اسلام په سپیڅلي نظام کې عدلیه او ستره محکمه د حکومت تر لاس لاندي نه بلکی نیغ په نیغه د الله (ج) نماینده او هغه (ج) ته ځواب ورکونکې ده. سره له دی چې د قاضی القضات تقرر د اجرائي ځواک (جمهور رئیس) له خوا ټاکل کیږي.

خو تر تقرر وروسته یې د قضا پر چوکی د کښیناستلو نه وروسته به د الهی قانون په برابر د خلکو تر مینځ له عدل او انصاف څخه کار اخلی د هغه له انصاف او عدل څخه پخپله جمهور رئیس، وزیران هم نه شي خلاصیدلی د محکمی پر وړاندی به په دی توګه حاضرولی شي څنګه چې عام ښاریان محکمی ته حاضریږي.

د اسلام ټولنیز نظام

دغه وینا د فروری د میاشتی په لسمه نیټه ۱۹٤۸ م کال د لاهور له راډیو څخه خپره شوې

د اسلام د ټولنیز نظام بنسټیزه ډبره دغه مفکوره ده چې د نړۍ ټول انسانان له یوه نسله څخه زیږیدلی الله عزوجل تر ټولو د مخه یوه انساني جوړه (حضرت آدم علیه السلام او بی بی حوا(رض) پیدا کړه او بیا یي له دواړو څخه بشري توکم خپور کړ.په پیل کې تر یوه وخته د دواړو اولادونه یو امت او په یوه دین او د یوې ژبې خبنتنان ؤ.خو څومره چې د دوی شمیر زیاتیده پر ځمکه کې خپریدل ددې خپریدلو طبیعي نتیجه همدا وه چې په بیلا بیلو نسلونو، قامونو او قبیلو وویشل شي د هغوی ژبې، لباس او د ژوند لاري چاري سره جلا شوي.ځای اوبو او هوا د دوی رنګونو او قامت ته هم بدلون وبخښه دغه ټول اختلافات فطري اختلافات ؤ. چې د واقعیت په نړی کې اوس هم وجود لري له همدی کبله یي اسلام د یو واقعیت په توګه منی.

د اسلام سپیڅلی دین د دغه واقعیت ړنګول نه غواړي بلکی له دي څخه ګټه پورته کوي.او هغه دا چې د انسان د خپل مينځی تعارف او پیژندګلوی په همدي صورت کیدی شي. لیکن د اختلافاتو پر اساس په انسانانو کې چې وروسته د توکم، رنګونو، ژبي، قام او وطن کوم تعصبات را مینځته شوې هغه ټول اسلام ناسم وګڼل د انسانانو تر منځ ټیټ او لوړ، شریف او خسیس د خپل او پردي چې څومره بیلتونونه پیدا شوي. د اسلام په رڼا کې دا ټول د جاهلیت سوغات دي اسلام یې بشریت ته په ډاګه اعلانوي چې تاسو ټول د یو مور او پلار اولاد یاست له همدی کبله تاسو ټول یو د بل ورونه او په انساني حیثیت کې سره برابر یاست.

ددغه لوړ نړی وال انساني تصور له غوره کولو نه وروسته اسلام وایې چې د انسانانو تر منیځ امتیازي بیلتون که چیري کیدی شي هغه نسل، رنګ، وطن او ژبه نه دي بلکي افکار، اخلاق او اصول دي.د یوې مور دوه ځامن د خپل نسب په لحاظ دواړه سره یو دي خو د اخلاقو او افکارو په لحاظ سره بیلتون لري د ژوند لاري د دواړو سره جلا دي. ددي بر عکس د ختیځ او لویدیځ د لري واټن استوګن مسلمان په څرګند ډول که څومره یو تر بله سره لري اوسي. لیکن د ژوند لاره یې سره یوه ده.

ددغی نظریي پر بنسټ اسلام د نړی د ټولو نژادي، وطني او قامي ټولنو پر خلاف یوه فکري، اخلاقي او اصولي ټولنه جوړه کړه. چې په هغي کې انساني اړیکی د هغه د پیدایښت پر بنسټ نه وي بلکې عقیده او اخلاقي ظوابط وي.هر هغه څوک چې الله (ج) خپل څښتن او معبود بولي او د پیغمبرانو لارښوونی د ژوند د قانون په توګه ومني. په دغه ټولنه کې شاملیدلي شي.برابره خبره ده چې د افریقا او امریکا استوګن وي او یا شامي او یا اربایې نژادی اوسي یا سور او یا توروي که هغه په هندي ژبه خبري وکړي او که په عربي چې کوم انسان هم په دغه ټولنه کې شمولیت پیدا کړي.د هغو ټولو حقوق او ټولنیزه مرتبه سره مساوي ده. هیڅ رنګه نژادي، قامي او یا طبقاتي امتیازات د هغوی تر مینځ نه شي رامینځته کیدی چې یو د لوړ او بل دې ټیټ وي. په دي توګه چې په لاس لګولو سره پرې سړي پلیت وګڼل شي او په نکاح، خوراک، څښاک او په ناسته پاسته

کې د هغوی تر مینځ خنډونه اوسي هیڅوک هم د پیدایښت او یا کسب او کار په لحاظ ذلیل او ټیټ نه دي. هیڅا ته هم د خپل نسب په اعتبار ځانګړي حقوق په برخه نه دي.

د یو شخص لوړتیا د هغه د کورنۍ او شتمنۍ له امله نه دی بلکي یوازی له دي کبله دی چې د زیاتو ښو اخلاقو خاوند او په تقوا کې له نورو خلکو زیات دی.

دغه داسي ټولنه ده چې د نسل، رنګ، ژبی او سیمی پولي یې ړنګی کړي او د ځمکی ټولو برخو ته شامله ده او پر بنسټ یې د بشریت یوه نړۍ واله ورور ګلوي پر پښو ودریدلی شي.

په نژادي توکمیزو او سیمه ئیزو ټولنو کې یوازې هغه خلک ګډون کولی شي. چې په کوم نسل او یا وطن کې پیدا شوې اوسي له دې نه د بیرون خلکو لپاره د داسي ټولني دروازې بندي دي.البته په فکري او اصولي ټولنه کې هر هغه شخص له برابرو حقوقو سره شاملیدلی شي. چې یوه عقیده او اخلاقي ظابطه یې منلی وي.

پاتی شوه هغه خلک چې دغه عقیده او ظابطه نه مني نو دغه ټولنه یې په خپل چاپیریال کې نه شي حسابولی مګر د انساني ورور ولي اړیکی ورسره ټینګولی شي او بشري حقوق ورته په برخه دي څرګنده دي وي. چې د یوې مور ځامن که چیري په افکارو کې سره بیلتون ولري او د ژوند لارې یې سره جلا وي دا ددي معنانه لري. چې دوی په خپل مینځ کې سره ورونه نه دي.

په دی توګه د بشري توکم دوه ډلي چې په یوه هیواد کې ژوند ترسره کوي. خو په خپلو مینځونو کې اعتقادي او اصولي اختلاف سره ولري. د هغوی ټولنیز ژوند جلا کیدلی شي. خو په انسانیت کې سره مشترک دي.

ددغه ګډ انسانیت پر بنسټ زیات نه زیات چې د کومو حقوقو تصور کیدی شي هغه ټول اسلامي ټولني د نامسلمانو ټولنو لپاره منلی دي.

د اسلام د ټولنيز نظام د بنسټونو له پيژندلو وروسته اوس موږ هغه اصول او تګلاري ګورو چې اسلام د انسانانو د پيوستون لپاره ټاکلې دي.

د انساني ژوند لومړۍ او بنسټيزه اداره کورنۍ ده. د کورنۍ بنسټ د نارينه او ښځينه د يو ځـای کيـدو څخه را مينځته کيږي. له دغه پيوستون نه نوی نسل جوړيږي. بيا له دغې ريښې نه کورنۍ، وروروليۍ او داسې نوې اړيکې وده مومي په پای کې دغه شان خپريږي او پراخې ټولنې پورې رسيږي جوتـه ده چې کـورنۍ هغـه اداره ده چې د خپلو راتلونکو نسلونو لپاره د بشري تمدن د پراخه خدمتونو د سنبالښت په خاطر پـه ډيـر محبـت، ايثار، زړه سوي او خير غوښتني سره يو نسل روزي دغه اداره د بشـري تمـدن د پايښـت او ودې لپـاره ظاهري فريب ورکونکي افراد نه تياروي.بلکی د هغې کار کونکي د زړه له تل نه ددې خبرې هيله من وي چې د هغوی پر ځای دې داسي خلک ځای ونيسي. چې له هغوی څخه غوره او بهتره وي. پردې اساس دا يـو حقيقت دی چې کورنۍ د بشري تمدن ريښه او اساس تشکيلوی.

ددغې ريښې په صحت او ځـواک د ټـول تمـدن دارو مـدار دی. لـه همـدی کبلـه د اسـلام سـپيڅلي شريعت په ټولنيزو مسايلو کې تر ټولـو د مخـه دې. لـور تـه پاملرنـه کـړې ده چې د کـورني نظـام اداره دې پـه صحيحو بنسټونو ټينګه کړی شي.

د اسلام په رڼا کې د نارينه او ښځينه د اړيکو صحيح شکل يوازې دادی چې له هغـې سره دې ټـولنيز مسؤليتونه قبول کړی شي او د هغې پـه نتيجـه کـې دې د کـورنۍ د بنسـټ ډبـره کيښـودله شي. ازادې او غـير مسولانه اړيکې يوازی تفريح او معمولی بې لارتيا مه بولۍ.بلکي د بشري تمـدن د ريښـو د پريکولـو عمـل يـې وګڼي له همدي امله اسلامي شريعت د زنا ناوړه اړيکه نـاروا او قـانوني جـرم ګرځـولی دی او د هغـي لپـاره يـې سخته سزا ټاکلې ده.ترڅو په ټولنه کې داسې تمدن وژونکې اړيکې رواج ونه مومي او ټولنه له هغو اسبابو څخه پاکه او سپيڅلي وساتلي شي.چې داسي غير مسولانه اړيکي په خوځښت راولي او يا ورته لاره چاره برابروي. د پردې احکام په ازاده توګه د پرديو نارينه او ښځينه ؤ. تر مينځ د اختلاط بنديز، په موسيقي او عکسونو بنديزونـه

او د فواحشو د خپریدلو ضد خنډونه ټول د همدغه ناوړه کار د ور کـاوی پـه خـاطر دي.او مرکـزي مقصـد یـې د کورني نظام ساتنه او مضبوطول دي له بلې خوا مسولانه اړیکي یعني نکاح په اسلام کې نـه یـوازي دا چـې روا عمل دی بلکی یو نیک د ثواب کار او یو عبادت بللی شی.د بلوغ له وخته وروسته یې د پردي نارینه او ښـځینه یوازی پاتي کیدل ناوړه قانوني عمل بللی او هر څلمی یې پـه دې خبره پـوه کـړی. چې د تمـدني مسؤلیتونو بارچې دده مور او پلار راپورته کړئ ؤ.ا وس به یې پخپله پورته کوي

اسلام رهبانیت نیکی نه ګڼي بلکي د الهی فطرت پر خلاف یې یو نوی بدعت بولي. هغه ټول رسـمونه او رواجونه سخت غندي. چې د هغې له امله نکاح کول یو سخت او ستونزمن کار وګڼل شي.

دا ددی خبري دلیل دی چې په ټولنه کې دی نکاح اسانه او زنا دې سخت کار وګڼل شي. نـه دا چـې نکاح سخته او زنا کولو ته اسانتیاوي برابرې شي له همدی کبله د یو څو ځانګړو خپلوانو څخه پرته له ټولو لـرې او نږدي خپلوانو سره یې ازادوا جي تعلقات روا ګرځولي دي. له ټولو نسلي امتیازاتو نه پرته یـې د مسـلمانانو تـر منځ د واده کولو پراخه اجازات وکړ. مهر او د واده د دومره لږ سامان فرمان یې ورکړ چې د واده اړخونـه یـې پـه اسانه سره تحمل کړی شي.

د نکاح د نظام د ټینګښت په خاطر یې نه قاضی او نه د د فتر او نکاح نامې کوم ضرورت پریښـود. پـه اسلامي ټولنه کې نکاح یو داسي سـاده طریقـه ده چـې هـر یـو بـالغ عاقـل نارینـه او ښـځینه کـولی شي د دؤو ګواهانو په وړاندې د ایجاب او قبول مراسم ترسره کړي. خو لازمه ده چې دغه ایجاب او قبول په پټه توګـه نـه بلکې په کلي او قریه کې د اعلان په توګه وي.

په کورني کې د اسلام سپیڅلي نظام نارینه ته د ناظم حیثیت ورکړی. ترڅو هغه په په کـور کـې نظـم او ضبط ټینګ کړي. میرمن ته یې د میړه او اولادته یې د مـور او پـلار دواړو د اطاعت او خـدمت حکـم کـړی دی.

د اسلام مقدس دين داسي بې نظمه كورنى نظام هيڅكله نه خوښوي چې په هغه كې نه انظباط وي او نه د كور والاء و د اخلاقو او معاملاتو د سمون په خاطر څوک مسؤل. په هر حال نظم د يوه ذمه وار او مسؤل په وسيله ټينګښت مومي.

د اسلام په وړاندي ددغه مسؤليت لپاره پلار په طبيعي ډول موزون او برابر وي. مګر ددې معنا دا ندي چې نارينه دې يو جابر ظالم مستبد او خپلسرى واكمن جوړ شي او ميرمن دې د وينځې په توګه هغه ته وسپارله شي.

د اسلام په وړاندي د ازدواجی ژوند اصل روح محبت، ترحم او عاطفه ده د ميرمن مسؤليت كه د خاوند اطاعت دى.نو ميړه هم مسؤليت لري چې خپل واک د اصلاح لپاره په كار روالي. نه دا چې په ظلم او زور زياتي لاس پورې کړي د اسلام سپيڅلي دين ازدواجی تړون تر هغه پورې د پايښت وړ بولي چې په هغه كې د مينې او محبت خوږوالی او يا لږ تر لږه د ملګرتيا امكان موجود وي.

كله هم چې دغه امكان پاتي نه شي هلته بيا هغه ميړه ته د طلاقو او ميرمن ته د خلع حق وركوي او په ځينو صورتونو كې اسلامي محكمي ته دغه واک سپارل شوى دى چې هغه دغسي نكاح ماته كړي.چې د رحمت، شفقت مينې او محبت پر ځاى زحمت جوړه شوې وي.

د كورنۍ چاپيريال له پولي نه بيرون نژدې ريښه د خپلولی ده.چې د هغی دايره ډيره پراخه ده كوم وګړي چې د مورولی، پلار ولی او ورور ولی د اړيكو او يا د سخر ګنۍ له امله يو دبل خپلوان وي. اسلام دغه ټول يو د بل خواخوږي مرستندوی او غم شريک ليدل غواړي.

په قران كريم كې ځاى پرځاى له خپلوانوسره دنيک چلند حكم شوى په نبوي مباركو حديثونو كې ځاى پرځاى دصله رحمی بيابيا تا كيد شوي او هغه بې ډيره لويه نيكې ګڼلی ده داسلام دسپڅلې دين په وړاندې هغه شخص د يرناوړه ګڼل شوى چې له خپلو خپلوانو سره سوړ او د سپين سترګې چلند كوي.خو ددى

خبري مطلب دا نه دی چې د خپلو خپلوانو بی ځایه ملاتړ کوم اسلامي کار دی. د خپلي کورنۍ او قبیلې داسې ننګه چې د حق پر خلاف وي. د اسلام پر وړاندي جاهلي کړنلاره ده.

په دي توګه که چیري د حکومت کوم منصبدار د حکومت په لګښت د خپلوانو پالنه وکړي او یا په خپلو پریکړو کې په ناروا توګه د خپلو خپلوانو تر څنګ ودریږي.دغه هم کوم اسلامي کار نه بلکې یو شیطاني خوځښت دی اسلام د هغې صله رحمي حکم صادروي چې د حق او انصاف او عدل په چاپیریال کې اوسي.

د خپلوانو نه وروسته دویم نژدې تعلق د ګاونډیانو سره وي. د قرآن عظیم الشان دلارښوونو په رڼا کې خپلوان په درې ډوله دي.

یو ګاونډي خپلوان دویم اجنبی ګاونډی دریم عارضي ګاونډی لکه د لارې ملګری دا ټول د اسلامي احکامو له مخی د ملګرتیا، زړه خوږي او نیک چلند مستحق دي.

حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې ماته د ګاونډي د حقونو دومره تاکید شوی چې فکر مي کاؤچې ښایي په میراث کې به برخه یوسي.

په یو بل حدیث شریف کې راغلي دي: هغه وفرمایل هغه سړی مؤمن نه دی چې د هغه له شر څخه ګاونډی په امن نه وي په یو بل حدیث کې د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی: هغه سړی ایمان نه لري چې خپله خیټه ډکه کړي او په څنګ کې ګاونډي یې وږی تږی اوسي.

یو ځل حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړی شو چې یوه ښځه ډیر لمونځونه کوي او زیاتي روژی نیسي او خیراتونه هم کوي خو ددي له ژبی نه ګاونډیان په امن نه دي.حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه دوزخی ده خلکو عرض وکړ چې یوه بله ښځه هم شته چې په هغې کې دغه ښیګڼې نشته.لیکن هغه خپلو ګاونډیانو ته تکلیف نه رسوي.حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه جنتي ده.

حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم خلکو ته دومره تاکید کړی و که چیری تاسي خپلو اولادونو ته میوه رواړي نو یایې د ګاونډي کور ته هم ولیږي او که نه ؟د هغې پوټکي بیرون مه غورزوي ترڅو ستاسي د ګاونډي زړه خفه نه شي یو ځل هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل که چیری ستاسي ګاونډی ستاسو په باره کې ښه نظر ولري نو واقعاً تاسو ښه خلک یاست او که ستاسو په هکله یې رایه او نظر ښه نه وي نو تاسو بد خلک یاست.

لنډه دا چې د اسلام سپیڅلي دین هغه خلک چې د یو بل ګاونډیان وي په خپلو مینځونو کې خوا خوږي ملاتړي او په غم او خوشحالی کې شریک لیدل غواړي. د هغوی ترمینځ داسې اړیکې ټینګوي. چې هغوی ټول یو پر بل باور وکړي.او د یو بل په اړخ کې خپل ځان، مال او ابرو محفوظه ووینې. هغه ټولنیز ژوند چې په هغه کې ګاونډیان له یو بل سره نابلد اوسي. او یادا چې د یو کلي استوګن له یو بل سره نه د زړه تړاو او خواخوږي ولري.داسې ژوند ته هیڅکله اسلامي ژوند نه شو ویلی. دغسې نږدې اړیکو نه وروسته د اړیکو پراخه دایره مخې ته راځي.

په دغه دایره کې چې اسلام زمونږ د ټولنیز ژوندانه لپاره کوم لوی اصول قایم کړي دي. لنډیز یې په لاندې توګه دی.

۱- د نیکي او تقوی په چارو کې یو تر بله مرسته وکړي او د ګناه او زیاتي په کارونو کې یو تر بله مرستندویان مه اوسئ. (قرآنکریم)

۲- ستاسو دوستي او دښمني د الله (ج) په خاطر په کار دی چې کومه ورکړه کوي ددې په خاطر یې کوي چې الله (ج) یې غوره ګڼي او چې کوم شی نه ورکوې ددې په خاطر چې الله (ج) یې ورکړه نه خوښوي. (نبوي حدیث)

۳- تاسو هغه غوره امت یاست چې د نړی والو د ښیګڼې او خیر په خاطر را پورته شوي یاست ستاسو کار په نیکی امر او د بدو چارو مخنیوی دی.(قرآنکریم)

٤- په خپلو مينځونو کې بد گوماني مه کوي د يو بل په چارو کې تجسس مه کوي د يو بـل پـر خـلاف خلک مه پاروي او په خپلو منيځونو کې بغض، حسد او کينه مه کوي.

يو او بل ته شامه گرځوي د الله بندگان او په خپلو مينځونو کې سره ورونه شي.(نبوي حديث)

٥- کوم شخص چې د ظالم په توگه پيژنۍ له هغه سره ملگرتيا مه کوې.(نبوي حديث)

٦- په ناحقه د خپل قام ننگه کول داسې دي لکه چې ستاسو اوښ په کوهي کې لويـدلی وي او تاسـو يې لکۍ نيولې وي. (نبوی حديث)

٧- د نورو مسلمانانو لپاره هغه شی غوره کړي کوم چې د خپل ځان لپاره يې غوره بولې.

د اسلام روحاني نظام

دغه وينا د فروری د مياشتی په لسمه نيټه ۱۹٤۸ م کال د

لاهور له راډيو څخه خپره شوې ده

داسلام روحاني نظام څه شي او دژوند له بشپړنظام سره يي اړيکه څه ده ؟

ددي پوښتني لپاره ضروري ده چي ترټولو مخته موږ پرهغه امتياز باندې ځان پوه کړو چي داسلامي فکر او نورو مذهبي او فلسفي نظامونو په افکاروکې موندلى شي .

په بشري فکر کي ددغي امتيازي کر ښې د نشتوالي له امله زياتره وخت داسې پيښيري چې داسلام دروحاني نظام دبحث په مهال په ذهن کې له ارادې پرته داخبره تيريږي چې داځنګه روحاني نظام دى چې روح او ماده يې دواړه يوځاى کړي دي . يواځې يوځاى والى نه بلکې په عملي توګه پر هغې باندې واکمني کوي .

دفلسفې او مذهب په نړۍ کې په عام ډول دغه فکر کيږي چې روح او جسم دواړه ديوبل ضدعناصراو ددواړ جلانړۍ ده او غوښتني يې هم سره جلا او ددواړويوځاى پرمختګ له سره ممکن نه بريښي

.

دروح لپاره جسم او مادي نړۍ دجيلخانې حيثيت لري دنيوي ژوند پورې اړوندې پيښې هغه زولنې دي چې روح په کې تړله شوې دنيوي كاروبار او معاملات هغه قفس ته ورته دي چې دروح پرواز تمبوي

ددغه تصور لازمي نتيجه داشوه چې دورحانيت اومادیت لارې سره جلاشوې كومو خلكو چې مادي اړخ غوره كړ په لومړي گام له مايو سی سره مخامخ شول .

دغه فكر هغوی په ماده پرستی كې غوپه كړل ، ټولنيز ژوند، تمدن سياست ، اقتصاد ، لنډه داچې ددنيوي ژوندانه ټولې څانگې دروحانيت له رڼاڅخه خالي او په پای كې زمكه له ظلمه ډكه شوه له بلې خوا كوم خلك چې دروحانيت په لټه كې ؤهغوی دخپلې روح دپرمختگ لپاره داسې لارې چاې ولټولې چې له ټولنيز ژوندنه لر ې .په غرونو او ځنگلونوكې وې داځكه چې دهغوی له نظره دروحاني پرمحتگ لپاره هيڅ يوه لاره نه شوه موندل كيدی .چې ددنيوي مادي ژوندله مينځه تيره شوې اوسي دهغوی په وړاندې دروحاني پرمختگ لپاره دجسماني څواک له مينځه تلل لازمي خبره وه .

له همدې كبله هغوی له خپل ځانه داسې رياضتونه اودعبادت لارې چارې ايجاد كړې چې نفس او جسم يې دواړه له كاره وويستل دروحاني تربيت لپاره يې ځنگلونه څمڅې او گوښه ځايونه بهترين ځايونه وگڼل ترڅو دتمدن زوراو شور ددوی په مصروفيتونو خلل رانولي .

دروح پالني لپاره دوي ته له دي نه پرته بل صورت په سترگونه شو چې دمادي ژوند ټولې اړيكې غوڅې اوله منځه لاړې شي .

له د ې نه وروسته بيادجسم او روح دغه تضاد دانسان لپاره دكمال دوه بيلابيل مفاهيم او اهداف رامنځته كړل .

يولورته ددنيوي ژوندانه دكمال او پرمختگ مفهوم داشوې انسان دې يوازې په مادي ژوند انه كې ډوب اوسي ددې كارنتيجه داوگرزيده چې انسان يو بهترين مارغه داوبويوښه حيوان يوښه اس اويوښه ليوه جوړشو.

بل لورته دروحاني ژوندانه دكمال مفهوم هم بدلون وموند او هغه داچې دانسان فطرت دې دلوړ ځواك خاوند وګرزي ددې پايله داشوه چي انسان يوښه راډيوسازيو ښه ذره بين او او يـوه ډيـره لـوړه او بشـپړه دواخانـه وګرزيده .

داسلام نقطه نظرپه دغه هكله دنړۍ دټولومذهبي او فلسفي نظامونوڅخه بيلتون لري اسلام وايې چې انساني روح الله پاك دځمكېپېرمخ خليفه وګرځاوه يوڅه واك ، فرايض او يوڅه مسؤليتونه يې ورتـه وروسـپارل او ددې دترسره كولولپاره يې هغه ته يوبهترين او موزون بدن او صورت هم وركړترڅو په بشـپړې خپلـواكۍ سره دخپلو اړونده دندوپه سرته رسولوكې ورڅخه كارو اخلي .

له همدې كبله دغه جسم دروح جيلخانه نه بلكې دهغه كارخانه ده ددغـه روح لپـاره كـه چـيري كومـه ترقي او پرمختګ ممكن دی هغه دادی چې هغه ددغې كارخانې الات اسباب او ځواكونه په كارراولي او خپل قابليت وښئي بيا دغه نړۍ دعذاب كورنه دی چې په هغې كې بشري روح زنداني وي . بلكې داهغه كارخانـه ده چې په دې كې دكاركولو لپاره الله جلت عظمته نړۍ ته استولی دی .

دلته يې ډيرشيان دهغه په واك كې وركړي . او له ده سره يې نور وګړي هم دخلافت ددندې دسرته رسولو لپاره نړۍ ته راليږلي دي دلته دفطـرت لـه غوښـتنو سره سم دتمـدن ، معـاشرت ، اقتصـاد ، سياسـت او دژوندنورې څانګې يې دده لپاره رامېنځته كړي دلته كه چيرې كومه روحاني پرمختيا كيدی شي نوددې صورت دانه دی چې انسان له دغې كارخانې څخه مخ واړوي او په يوګوښه ځای كې كښـيني بلكـې ددې ښـه صـورت دادی چې هغه په دې كې كاروكړي او خپل لياقت څرګند كړي نړۍ دده لپاره دازموينې ډګردی دژوند هراړخ او هره څانګه ګويا دده لپاره د ازموينې پارچه ده. كور، كلی، بازار، منډايي ، دفتر، كارخانه ، مدرسه او ښـوونځی، محكمه ، فوځي چاونۍ، پارلمان ، دسولې كانفرانسونه ، اودجګړې ډګر،ټول دبيلابيلومضمونو نوپارچې دي چې ددې كار په خاطر ده ته وركړشوې دي .كچيرې هغه په دې كې كومه پارچه ډكه نه كړي او يـا زيـاتره پـارچې خالي پريږدي نوپه نتيجه كې به دده لپاره له صفره پرته بل څه ورنـه كـړی شي دبـري او پرمختـګ كـه كـوم ا

مکان کيدی شي نويواځنی صورت يې دادی چې هغه خپل ټول وخت او ټوله پاملرنه دازموينې په ورکولوکې پـه لګښت ورسوي . او ځومره پارچې چې ده ته ورکړشوي په ټولودې څه ناڅه دکارکولو څرګندونه وکړي .

په دې توګه اسلام دژوندانه راهبانه تصور ردوي دانسان لپاره دروحاني پرمختګ لاره له دنيـوي ژونـد څخه جلانه ده دروحاني ودې او پرمختګ بریالیتوب او نيکمرغۍ اصـل ځـای دژونـد مرکـزي کارځـای دی نـه دژوندګوښه او کناره ، اوس موږ ته کتل په کاردي چې اسلام دروحاني پرمختګ او ځوړتيالپاره کوم معياروړاندې کوي ددې پوښتنې ځواب دخلافت په مفکوره کې پروت دی چې هغه به زه اوس ذکرکړم .

دخليفه په حيث انسان دخپل ټول ژوند دکارنامې لپاره دالله جلت عظمتـه پروړانـدې ځـواب ورکونکی دی دهغه مسؤليت دی چې په ځمکه کې کوم اختيار او وسايل ده ته ورکړ شوې دي هغه ټـول دالله عزوجل د خوښې په برابرستعمال کړي . کوم لياقت او ځواکونه چې ده ته ورکړ شوې هغه زيات نه زيـات دالله جلت عظيمه دخوښې په لاس ته راوړلو کې په لګښت ورسوي په بيلابيلو اړيکوکې چې له نورو انسانانو سره دده ترون رامنځته کيږي په هغې کې دې داسې کړنلاره غوره کړي چې الله جلت عظمته ته خوښه وي اوپه بشـپړه توګه دې خپلې ټولې هلې ځلې په دغه لارکې په لګښت ورسوي چې دزمکې، او دهغي په سردژونـدنظام دومـره غوره بڼه غوره کړي ځومره يې چې الله عزوجل غوره ليدل غـواړي دغـه خـدمت چـې انسـان ځـومره دمسؤليت پيژندنې اطاعت او دخپل ځښتن درضااو خوښي سره سرته ورسوي په همغه اندازه به الله جلت عظمته ته نـژدې توب حاصل کړي .

الله عزوجل ته نږدېتوب داسلام په رڼاکې روحاني پرمختګ دی ددې پرعکس چې هغه ځومره دخپـل مسؤليت په سرته رسولو کې سست ، تنبل ، غل ، او مسؤليت نه پيژندونکی اوسي او ياپه بل عبارت چې ځـومره سرکښ ، باغي او نافرمان وي په هماغه اندازه به له الله عزوجل څخه لرې وي . له اللـه عزوجـل څخـه دلـرې والي نوم داسلام په ژبه روحاني تنزل ګڼل کيږي . له دغې ځيړنې څخه دغه خبره څرګند يږي چې داسـلام پـه رڼاکې ددیندار او دنيادار دواړودعمل دايره يوه ده . يو کارځـای دی چـې پـه هغـې کـې دواړه کـاره کـوي بلکـې

ديندارہ سړی به له دنيا دارڅخه هم زيات په بشپړکوښښ سره مشغول وي .دکورله چاپيريال نه واخله ترنړی والو کانفرانسونو پورې چې دژوندانه څومره چارې دي داټول مسؤليتونه به ديندار انسان له دنيادارنه زيات په خپلو لاسونو کې اخلي البته کوم شی چې ددواړولارې يوتربله سره جلاکوي هغه له الله عزوجل سره داړيکو قايمولو نوعيت دی - ديندارانسان چې څه شی کوي د الله جلت عظمته پر وړاندې دمسؤليت داحساس او دالله عزوجل درضادحاصلولو لپاره يې ترسره کوي اودهغه قانون په برابربه يې سرته رسوي .چې الله جلت عظمته دده لپاره ټاکلی دی ددې پرعکس دنيادارانسان چې په کوم کارلاس پورې کوي په غير مسؤلانه او خپلسري ډول يې سرته رسوي همدغه کار دديندارہ انسان ژوند دروحانيت له رڼاڅخه محروموي .

اوس زه په لنډه توګه تاسوته وايم چې اسلام ددنيوي ژوند په دغه مرکزکې دانسان لپاره دروحاني پرمختګ لاره څنګه جوړوي ؟

ددغې لارې لومړی پړاؤ ايمان دی يعنې چې دسړي په زړه اودماغ کې دغه مفکوره او يقين پروت وي چې الله عزوجل دده مالک ، حاکم ، اومعبود دی دالله جلت عظمته خوښي دده دټولو کوښښونو موخه جوړوي او دالله عزوجل حکم دده دژوندانه قانون دی - دغه فکراو عقيده چې څومره زياته پخه او ټينګه وي په هماغه انډول به يې ا سلامي عقيده پياوړې اوله زيا ت ثبات او ټينګارسره به انسان دروحاني پرمحتګ په لاره ګامونه اخلي .

ددغې لارې دويم پړاؤ اطاعت دی يعنې داچې سړی په عملي توګه له خپلې خپل سری څخه لاس واخلي او په عملي ډول الله عزوجل بندګي اختيارکړي چې دايمان او يقين پراساس يې دخپل څښتن په توګه منلی دی ددغه اطاعت نوم دقرانکريم په اصطلاح کې اسلام دی او دريم پړاؤيې تقوی ده چې په عامه ژبه کې د فرض په پيژندلو او دمسؤليت په احساس سره تعبيريږي .

تقوی دادی چې سړی دخپل ژوند په هراړخ کې له پوهې سره سم کاروکړي اوپه دې باوري وي چې هغه به دخپلوافکارو، ويناؤاو افعالودخپل څښتن په وړاندې حساب ورکوي دهرهغه کارمخه دې ونيوله شي چې

الله عزوجل منع کړې وي او هرهغه کارته دې ملاوتړله شي چې الله عزوجل یې دکولو حکم کړیوي او په پوره پوهې سره د حلال او حرام، صحیح او ناسم خیراوشرترمېنځ دې بیلتون وکړی شي .

ددغې لارې ترټولو لوړپړاؤاحسان دی داحسان معنادادی چې دبنده خوښه دالله عزوجل له خوښې سره یوځای شي کوم شی چې الله جلت عظمته ته خوښ وي بنده یې هم په خپل زړه سره خوښ وبولي الله تعالئ چې کومې بدې چارې په خپله زمکه باندې لیدل نه غواړي مسلمان بنده نه یوازې داچې له هغوی څخه پخپله ځان وساتي بلکې له نړی نه دهغې دپای ته رسولو لپاره خپل ټول ځواکونه او خپلې ټولې وسېلې په کارراولي – او الله تعالی چې دکومو نیکو چاروخپرول او خپله ځمکه پرې ښایسته کول غواړي – مسلمان بنده نه یوازې په دې اکتفاء کوي چې خپل ژوندپرې ښایسته کړي بلکې دخپل سردوینو په بیه یې په ټوله نړی کې خپرول او ټینګښت غواړي دغه مقام ته په رسیدلوسره بنده ته د الله عزوجل نهایې قرب او نژدې توب په برخه کیږي .له همدې امله دانسان دروحاني پرمختګ ډیره لوړه مرتبه ده

دروحاني پرمختګ دغه لاره یوازې افرادوته نه بلکې ولسونو او ټولګیوته هم په برخه کیدی شي دیوفرد په شان یو قام ته هم داېمان ، اطاعت او تقوی له پړاؤنوپه تیریدلو داحسان لوړوپړاؤنوته رسیدل ممکن دي په همدې توګه یو دولت او حکومت هم له خپل بشپړ نظام سره مؤمن ، مسلمان ، متقي او محسن جوړیدی شي .

بلکې په حقیقت کې به داسلام مقصدهلته ترسره شي چې یوبشپړقام په دغه لاره ګامونه واخلي ترڅو په نړ ی کې یو متقي او محسن اسلامي دولت په پښو ودریږي اوس دروحاني تربیت په هغه نظام هم رڼاچول غواړم چې دافرادو او ټولنې دروحاني تربیت لپاره اسلام وړاندې کړې ده چې څلورارکانه لري .

دروحاني تربیت لومړي رکن لمونځ دی چې په شپه او ورځ کې پینځه ځله دسړي ذهن کې د الله عزوجل یاد تازه کوي دهغه عزوجل ویره دده په زړه کې کښینوي او دهغه جلت عظمته محبت او مینه دده په زړه کې رامنځته کوي دهغه احکام بیابیامخې ته رادورمې او دهغه داطاعت تمرین ترسره کیږي دغه لمونځ په

یوازې په انفرادي توګه نه وي بلکې لـه جماعـت سره فـرض کړشوی دی ترڅوټوله ټولنه پـه مجمـوعي توګـه دروحاني پرمختګ په لاره ګامونه واخلي او په دغه لاره کې دتللو لپاره تل تیاراوسي .

دروحاني تربیت دویم رکن روژه ده چې هرکال پوره یوه میاشت مسلمانوافرادوته پـه انفـرادي توګـه او اسلامي ټولنې ته په مجموعي توګه دتقوی تربیت ورکوي .

دروحاني تربیـت دریـم رکـن زکـات دی چـې پـه مسـلمانوافرادوکې دمـالي سربنـدنې ، خپـل مینځـې همدردی او مرستې احساس رامنځته کوي نن ورځ ډیرخلک په غلطۍ سره زکات دټکس په لفظ سره تعبـیروي په داسې حال کې چې د زکات روح دټکس نـه پـه بشـپړه توګـه جـلا حیثیـت لـري دزکـات اصـلي معنـا وده او سپېڅلتوب دی له دغه لفظ نه اسلام دغه حیثیت دسړي په ذهن کې کښینوي او هغه داچې د الله عزوجـل پـه مینه او محبت کې چې له خپلو وروڼوسره تاسو کومه مالي مرسته کوي لـه هغـې نـه ستاسـې روح تـه پیاوړتیـااو ستاسواخلاقوته سپیڅلتیاپه برخه کیږي .

دروحاني تربېت ځلورم رکن حج دی داالله دمینـې او محبـت پـه محوردایمـان دښمـنانودنړۍ والـې وروګلوی دبنسټ دبره ږدي او یو داسې نړي وال خوځښت راولي چې په نړۍ کې بـه ترپیړیوپیړیوپـورې دحـق بلنې ته لبیک ویل کیږي اوکه خدای کول ترابده پورې به دغه ناره جاري وي .

د اسلام اقتصادي نظام

دغه وينا د فرورى د مياشتى په لسمه نيټه ۱۹٤۸ م كال د لاهور له

راډيو څخه خپره شوې.

دبشر داقتصادي ژونددعدل او انصاف په لاري دسمون په خاطر اسلام څو اصول او قوانين ټاكلي دي ترڅو دشتمنۍ دلاسته راوړلو، په كارولو او چلند ټول نظام په هغو كرښو برابرشي چې اسلامي شريعت يې لاربښونه كړې دپيسو دلاس ته راوړلوتګلاره او په دې توګه دچلند صورتونه يې بشپړواضح كړي دي

داسلام سپيڅلي دين دجزبي مسائلو څيړنه نه ده كړې بلكې كلي مسايل يې څيړلي داځكه چې جزبي مسايل په بيلابيلووختونو كې دتمدن له پرمختګ او ودې سره سم دحالاتواو ضرورتونو په لحاظ پخپله سمون مومي اسلام چې څه غواړي هغه دادى چې په ټولو وختونواو حالاتوكې چې دبشر اقتصادي كړووړوكوم شكلونه غوره كړي .په هغې كې دې دغه اصول په مستقل ډول ټينګ پاتې شي او ددغو حدودولازمي پابندي دې وكړى شي . داسلام دسپيڅلي نظام په رڼاكې زمكه او دهغې ټول شيان الله جلت عظمته دبشرداستفادې لپاره پيداكړي دي له همدې كبله د هرانسان دغه يو فطري حق دى چې له زمكې څخه دخپلې روزي د لاس ته راوړلوكوښښ وكړي په دغه حق كې ټول خلك په مساوي ډول شريک دي هيڅوک هم له دغه حق څخه بې برخې كولى نه شي هيچاته هم په دغه اړه ترجيحي حيثيت په برخه نه دى هيڅ يو شخص ، نسل او يا طبقي باندې په داسې توګه چې دځينو وسايلو له لاس ته راوړلو څخه بې برخې شي اوداسې امتيازات ټينګ شي چې دهغې پراساس دژونداويارزق كومه وسيله كومې ځانګړې طبقې ، توكم او يادكومې كورنۍ اجاره جوړه كړى شي . الله جلت عظمته پرځمكه دهغه عزوجل درزق او روزي دپيداكړشويو وسايلو څخه دخپلې برخې دلاس ته راوړلو په لوري هڅه دټولوخلكومساوي حق بللى ا و ددغو كوښښونو فرصتونه هرچاته په مساوي توګه پراخه پريښودلى شوي .

د الله جلت عظمته هغه نعمتونه چې په تیارولواو گټې اخېستلوکې یې دچادهلو ځلو او لیاقت دخل نه وي دټولو خلکو لپاره مباح دي . هرڅوک حق لري چې دخپلې اړتیا په اندازه ورڅخه گټه واخلي سمندرونه ، دچینواوبه دځنگلونو لرگي دطبیعي ونو میوې ،وانښه هوا اوبه اود صحراځناوردځمکې پر سطحه کانونه، په دې شیانو په عمومي توگه نه دچا شخصي ولکه تینگېدی شي اونه پرې داسې بندېزونه لگولی شي چې د الله جلت عظمته بندگان ورڅخه خپلې اړتیاوې پوره نه کړي .

البته کوم وگړي بې چې دسود اگریزواهدافو لپاره په لویه کچه په کار راولي پر هغوی ټکس لگولی شي الله تعالی چې کوم شیان دانسان دگټې په مقصد پیداکړي دي دهغو بې گټې پرېښودل صحیح نه دي یا خو چې پخپله ورڅخه گټه واخلي او یایې پرېږدي چې نورخلک ورڅخه مستفید شي .

ددغو اصولو پربنسټ داسلامي قانون دپریکړې پراساس هیڅوک هم خپله ځمکه له درې کلونو زیاته شاړه نه شي پرېښودلی که چیرې یې دکښت، ودانۍ اویا په داسې نورچارو کې په کار رانه وستله نو ددرې کلونو له تیریدلو وروسته متروکه زمکه گڼل کیږي اوبل شخص ته به ورسپارلی شي ترڅو ورڅخه کارواخلي پر دغې ځمکې څوک دعوه نه شي کولی او اسلامي حکومت بشپړ واک لري چې دغه ځمکه بل چاته وسپاري کوم شخص چې نیغ په نیغه دالله(ج) دنعمتونو له خزانوڅخه دخپل جهد اولیاقت په بنسټ ورڅخهٔ کارواخلي . هغه دهغه شي څېښتن گرځي .دمثال په توگه یوڅوک شاړه ځمکه په داسې حال کې اباده کړي چې دبل چا ملکېت نه وي اوگټه اخېستل ورڅخه پیل کړي نو دغه شخص له دغه ملکېت څخه نه شي گوښه کولی

داسلام دسپېڅلو لاربنوونو په مطابق په نړۍ کې دټولو مالکانه حقوقو پیل په دې توگه وشو دلومړي ځل لپاره هرکله چې دځمکې پرمخ بشري نسل رامېنځته شو نو ټول شیا ن دټولو خلکو لپاره مباح وو بیا چې کله کومو خلکو په دغوشیانو خپله قبضه پیل کړه اوددې شیانو څېښتنان وگرځېدل یعنې دوی ته دا حق ور په برخه شو چې د هغې استعمال دخپل ځان لپاره خاص وگرزوي اوکه چیرې بل څوک ورڅخه کار اخېستل

وغواړي له هغه څخه دې عوض واخلي دغه شی دانسان د ټولو اقتصادي معـاملاتو فطـري بنسـټ دی اودغـه بنسټ پر خپل ځای ټینګول په کاردی

په روا لارو چارو چې څوک دژوند په ډګرملکیت په لاس راوړي هغه په هر حـال دوبـاړ اوعـزت وړ ګڼـل کېږي البته هغه ملکیتونه دتنقید وړدي چی شرعي حیثیت یې معلوم نه وی کوم ملکیتونه چې په شرعـي لحـاظ ناروا وي له شک نه پرته یې پای ته رسول ضروري دي البته کوم ملکیتونه چې شرعي بنه او اساس ولري هیڅ یو حکومت او قانون جوړونکې غونډې ته دا حق په برخه نه ده چې هغه ورڅخه په زور واخـلي اویـا دهغـه پـه مالکانه حقوقو کې څه کموالی اویا زیات والی راولي اویادټولنېزو ښېګنو په نوم داسې نظام په پښو ودروي چې شرعي حقوق تر پښو لاندې کړي دټولنېزو ګټو لپاره چې د افرا دوپـه ملکیتونـو اسـلامي شریعـت کـوم بندېزونـه لکولي دي په هغوکې کموالی ډېر لوی ظلم او زیاتی دی

داخبره داسلامي حکومت په مسولیتو نو کې شامله ده چې د خلکو دشرعي حقوقو سـا تنـه وکـړي اولـه هغو څخه دې دټولنې هغه حقوق تر لاسه شي چې اسلامي شریعت پردوی بانـدې مقـرر کـړي دي اللـه جلـت عظمته دخپلو نعمتونوپه وېش کې مساوات اوبرابري په نظرکې نه دی نیولې بلکې دخپل حکمـت پراسـاس یـې ځینو خلکوتـه پـه نـورو فضـیلت ورکـړی دی،ښایسـت ښـه اواز صـحت، جسـماني ځـواکونـه دمـاغي قابلیتونـه دزېږېدنې چاپېریال اوداسې نور شیان ټولو خلکوته یوشان نه دي ورکړشوي همدغه معامله درزق هم دی الهي فطرت پخپله ددې خبرې غوښتنه کوي چې دخلکو تر منځ دې درزق اوروزي تفاوت وي له همـدې کبلـه هغـه ټول اصول اواهداف داسلام داصولو په رڼا کې ناسم اوغلط دي چې دخلکو تر منځ مصنوعي اقتصادي برابري په پښو دروي

اسلام چې د کوم مساوات اوبرابری قابل دی هغه په روزي کې نه بلکې درزق دلاسته راوړلو په هلوځلـو کې دفرصت برابرولو مساوات دی هغه غواړي چې په ټولنه کـې داسـې قـانوني خنډونـه لـه منځـه یـوسي چـې دهغې پراساس کوم شخص دخپل قوت او استعداد په مطـابق اقتصـادي هلـې ځلـې ونـه شي کـړی اودداسـې

امتیازاتو مخه دې ونېول شي چې ځېنو طبقو توکمونو اوکورنېو ته دپېداېښت په لحاظ خوشالي په قانوني تحفظ بدلون وموميي دغه دواړه طريقې دفطري نا برابرۍپرځای په زورسره بوه مصنوعي نابرابري په پښو دروي له همدې کبله اسلام ټول هغه نظامونه رنګوي اودټولنې اقتصادي نظام داسې فطري حالت ته راولي چې په هغه کې هرچاته دکوښښ کولو فرصتونو لار پرانستې وي البته کوم خلک چې غواړي دکوښښونووسايل اونتايج هم دټولو خلکو ترمېنځ په زورسره برابر کړي اسلام ورسره متفق نه دی داځکه چې هغوی فطري نابرابري په مصنوعي برابرۍ تبدېلول غواړي

بشري فطرت ته هغه نظام نژدې کېدی شي چې په هغه کې هرڅوک په اقتصادي ډګر دخپلې ځغاستې پېل له هغه ځاېه اوله هغه حالته وکړي چې پر هغه باندې الله عزوجل دده تخليق کړی څوک په موټر کې راغلی هغه دې په موټر کې دروميي اوڅوک چې په پښو راغلی هغه دې په پښو خپل مزل ته ادامه ورکړي او څوک چې شل شوټ نړی ته راغلی هغه دې په شوټ ځان سفر پېل کړي

ټولنېز قانون هېڅکله داسې په کار نه دی چې دموټرڅښتن دې په مستقل ډول دموټر اجاره ټېنګه کړي اودشل شوټ لپاره دې دموټر حصول نا ممکن وي اونه داسې په کاردی چې د ټولو ځغاسته دې په زور سره له يوه ځاېه په يوه حالت پېل اوتر پايه دې ټول سره تړلې شوي اوسي ددې پر عکس داسې قانون او اصول په کاردی هغه چاچې په ګوډه پښه ځغاسته پېل کړې وه هغه دې په خپل کوښښ او قابلېت سره موټر تر لاسه کړي چاچې په پېل کې موټر چلوه خووروسته دخپلې نا اهلۍ له کبله ګوډ اوشل پاتې شو اسلام بوازې دومره نه غواړي چې په ټولنېز ژوندکې دې دغه اقتصادي منډه تړه ډېره زباته پراخه وي بلکې داهم غواړي چې په دې ډګرکې ځغاستونکې وګړي دې دېوبل لپاره بې درده نه وي بلکې يو پر بل دې دردمن او مرستندوی وي . هغه له يو لوري د خپلو اخلاقي ښوونو په وسيله په خلکو کې دغه فکر پيداکوي چې خپلو وروسته پاتې ورونو سره دې مرسته وکړي له بل لوري هغه غواړې چې په ټولنه کې يوه مستقله اداره موجوده وي چې د معذورو ، شلو ، ګوډو او بې وسيلې خلکو د مرستې ضامن وي . کوم وګړي چې په اقتصادي منډه تړه کې د برخې اخيستلو

قابل نه وي هغه به له دغې اداري څخه خپله برخه لاس ته راوړي کوم وګړي چې د وخت د حوادثو له املـه لـه ځغاستې څخه لويدلې وي دغه اداره به يې را اوچتوي او بيا به يې د تللو وړ ګرزوي او کومو خلکوته چې د هڅو په دغه ډګر د سقوط انديښنه وي له دغې اداري نه به ورته مرسته په برخه شي

د دغه هدف د تحقق لپاره د اسلام سپيڅلي نظام دغه قانون ټاکلی دی چې د هيواد له ټولې پـانګې څخه دې .دوه نيمې برخې او له عشري ځمکو څخه دې لسمه او يا شلمه برخه زکات واخيستلی شي لـه ځينـو معدنياتو څخه دې پنځمه برخه او په څارويو کې دې له هـری نـوعې څخـه پـه ځـانګړي تناسب کلنـی زکـات واخيستل شي دغه ټوله پانګه دې په نيستمنو خلکواو يتيمانو او اړو وګړو وويشل شي .

دغه ډوه داسې ټولنيزه بيمه ده چې د هغې د موجوديت په صورت کې د اسلامي ټـولنې هـيڅ يـو تـن د ژوندانه د ضروري اړتياء وڅخه نه بې برخې کيږي هيڅ ډومزدور به کله هم دومره نه مجبوريږي چې د لـوږې لـه ويرې د خدمت هغه شرطونه ومني چې د کارخانې څښتن او يا يې د زمکې خاوند وړاندې کـوي . د هـيڅ سـړي شخصي ځواک به له هغه کم معيار نه هيڅکله نه ټيټيږي کوم چې دوټه ا يـزو هلـو ځلـو لپـاره ضروري دي . د فرد او ټولنې ترمينځ اسلام يو داسې توازن ټينګ کړی دی .چې په هغې کې د فـرد شخصـيت او د هغـه ازادي هم خوندي پاتې کيږي او د ټولنيزو ګټو لپاره دده ازادي زيان اړونکې نه وي بلکې لازمي ګټې هم لري

. د اسلام سپيڅلی نظام هيڅکله يو داسې سياسي او اقتصادي تنظيم نه خوښوي چې فرد پـه ټولنـه کـې خپل ځان ورک کړي او هغه ته هيڅ ازادي پاتې نه شي چې د هغـه د شخصـيت د صـحيح ودې لپـاره ضروري وي د يو هيواد د توليد د ټولو وسايلو د دولتي ګرزولو څخه دغه لازمي نيتجه راوزي چې د هيـواد ټـول افـراد پـه ټولنيزه شکنجه کې ميده کيږي په دغه حالت کې د هغـه دانفراديـت پايښـت او پرمختـګ لـه سـتونزو سره مـخ کيږي . د فرد لپاره چې څنګه سياسي او ټولنيزه ازادي ضروري دی پـه همدې توګـه اقتصـادي ازادي هـم تـر ډيرې اندازې پورې ضروري بريښي که چيرې موږ د انسانيت په بشپړ ډول بيخ او بنسـټ لـه مېنځـه نـه وړو نـو زموږ په ټولنيز ژوند کې دومره ګنجايش ضروري دی چې دالله جلت عظمته.ډوبنده خپله روزي په ازاد ډول پېـدا

کړي اوخپله فکري خپلواکي وساتي او خپلو ذهني او اخلاقي ځواکونو ته د خپلو رحجاناتو په برابر وده ورکړي د هر چاد رزق او روزۍ کلیګاني چې د بل چا په لاس وي که د څومره زیاتې شتمنۍ څښتن شي هیڅ خوند به یې نه وي دا ځکه د هغه په الوتنه کې چې کومه نیمګړتیا رامینځته شوې یوازې د جسم چاغ والی د هغې تلافي نه شي کولی .څنګه چې اسلام داسی جابرانه سرزوری نوکر صفته نظام نه خوښوي چې د رزق کلیګانې یې د بل چا په لاس کې وي په همدې توګه یو داسې ټولنیز نظام هم نه خوښوي چې افرادوته یې ټولنیزه او اقتصادي بې واګو ازادي ورکړې وي چې د خپلو غوښتنو او ګټو په خاطر ټولنې ته زیان وررسوي

ددغو د واړو افراطي نظریاتو ترمېنځ اسلام مینځنۍ لاره انتخاب کړې ده هغه دا چې لومړی دې فرد د ټولنې په خاطر د څو حدودو او مسؤلیتونو پابند کړی شي بیادې په خپلو چاروکې ازاد پرېښودل شي دهغو حدوددواومسئولیتونو بشپړ تفصیل بیانول دلته امکان نه لري البته دهغې لنډه نقشه ستاسې په مخ کې ایښودل غواړم .

ترټولو دمخه دپیسو لاسته راوړل درواخلې. دپیسو دګټلو په وسایلو کې چې اسلام ددومره باریکۍ سره دروا اوناروا بیلتون کړی دی. دنړۍ هیڅ قانون ورته پاملرنه نه دی کړې دشتمنۍ دلاس ته راوړلو هغه ټولې لارې چارې یې ناروا ګرزولي دي چې له هغې نه فرد اویاټولنې ته مادي اویااخلاقي زیان وررسېږي لکه دشرابو اونشه یي توکو جوړول اوخرڅول ، زنا، فحش، ګډا، نڅا، موسیقي، جواري لاټري، سود اوددوکې بېې اوداسې نورې سوداګرېزې لارې چارې چې په هغې کې یولورته یقیني ګټه اوبل ته دګټې اشتباه وي په همدې توګه داړتیا وړشیان لوړنرخ ته ساتل اوپه همد ې ډول ډېر هغه کاروبارونه چې په ټولنېزه توګه زیان رسوونکې دي .

په دغه معامله کې که چېرې داسلام داقتصادي قانون جاج واخیستلی شي نو دحرامو لارو چارو یواوږد فهرست به ستاسو مخې ته راشي په هغې کې به ډېرې هغه لارې چارې تاسوته وښودلی شي چې دهغې داستعمال په نتیجه کې په اوسني پانګواله نظام کې خلک ملیونران جوړېږي اسلام په دغو ټولو لارو چارو

دقانون له مخې بنديز لګولی دی اوخلکو ته يوازې په هغو لاروچارو دپيسو دګټلو ازادي ورکړې چې دهغې وسيله نوروته کوم حقيقي اوګټورخدمت ترسره اوله عدل اوانصاف سره دهغې عوض ترلاسه کړي.

دحلالو وسايلو څخه لاس ته راغلی ملکيت اسلام دملکيت دحقوقو په توګه مني البته دغه حقوق غيرمحدودونه دي اسلام سرې پابند جوړوي چې خپل رواګټلی شوی ملکيت په روااالاروچاروکې په کار راولي په لګښت بې هم داسې قيودت لګولي دي چې دهغې په وسيله پاک اوسپيڅلی ژوند ترسره کولی شي البته په عياشيو مزواوچړچو کې مال نه شي لګولی په همدې توګه چې دشان شوکت، فخر اوغرور په ښرګندونه کې له اندازې څخه تېرى وکړي اوپه خلکو دخپل الوهيت سکه وچلوي

دبې ځايه لګښتونو څنې صورتونه په اسلامي قانون کې په ښرګنده توګه ممنوع اعلان شوي البته په ځينو نورو صورتونو کې اګرکه صراحت نشته ليکن اسلامي حکومت ته دااختيارات په برخه دي چې په شتمنی کې له ناروا تصرفاتو نه دخپل حکومتي فرمان په وسپله بنديز اعلان کړي له روااومعقولو لارو نه چې کوم مال له چاسره پاتې شي هغه جمع کولی اودزياتې شتمنی دلاسته راوړلو لپاره يې په کارولي هم شي مګر په دغو دواړو حقونو ځينې بنديزونه هم شته دمال د راټولولوپه صورت کې دنصا ب نه دزيات ما ل په سلو روپيوکې به دوه نيمې روپۍ زکات ورکوي که چېرې په کاروبارکې يې لګول وغواړي نويوازې په روا کاروبارکې يې لګولی شي .رواکاروبار برابره خبره ده چې يوسړی يې پخپله پرمخ بوزي اويايې بل چاته د پانګې ، ځمکې او يا دالاتو او اسباپو په صورت کې ورکړي په ګټۀ او تاوان کې به دواړه سره شريک وي دغه دواړه صورتونه روا دي د اسلامي شريعت د حدودو په چوکاټ کې چې څوک کار وکړي په دغه صورت کې که چېرې يو څوک مليونر هم جوړ شي داسلام په رڼا کې دکوم اعتراض وړ نه ګڼل کيږي بلکې دالله جلت عظمتۀ پيرزوينه ده البته د ټولنيز و ګټو په خاطر پرې دوه شرطونه لګولی شي يو دا چې هغه به دخپل تجارت په مال کې زکات او په زراعتی محصولاتو کې به عشر ورکوي دويم دا چې هغه به د تجارت، صنعت او زراعت په چارو کې چې له کومو خلکو سره د شرکت او يا اجورې په معامله لاس پورې کوي له هغوی سره دې له انصاف او عدالت څخه

کار واخلي دغه انصاف که چېرې يې په خپله نه کوي اسلامي حکومت دې پرې مجبور کړي له دې نه وروسته چې مال در وا حدودو په دننه کې تر لاسه شي هغه اسلام تر ډېره وخته يوځآی نه پرېږدي بلکې د ميراث دقانونه په وسيله يې په را روانو نسلونو توزيع کوي په دغه معامله کې داسلامي قانون رجحان د نړۍ دنورو قوانينو له رجحاناتو سره توپير لري نور قوانين کوښښ کوي چې کومه شتمني يو ځل يوځای شي هغه دې تل ترتله پخپل حال پاتې شي د دې پرعکس اسلام داسې قانون جوړ کړی دی چې کومه شتمنۍ يو شخص په خپل ژوند کې تياره کړې ده د ده تر مړينې وروسته دې دده د نژدې خپلوانو تر مينځ وويشل شي که چېرته نژدې خپلوان ونه اوسي بيا دده لرې خپلوان په ميراث کې شريک دي او که لرې خپلوان يې هم نه ؤ بيا ټوله اسلامي ټولنه دده په ميراث کې برخمنه ده (يعنې ټول مال به بيت المال ته وسپارلی شي) د غه قانون دلوی پانګوال او ځمکه وال جوړيدو مخه نيسي د مخکنيو بنديزونو سره سره که چېرې څه خطر وي نو دغه وروستنی ګوزار به يې له مينځه يوسي .